مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۴/۰۱/۱۳

# نیمګړی سفر

بیګاه مې تِوله شپه له تا سره خواله کوله
لیک دي راغلی وي کلونه وروسته
لکه بادونو وي تر ما راوړی
کله یې کربښې لولم
کله یې ګورمه چې توري یې باران پرېولي
ځاځکي پر کربښو ځغلي
بس پکښې وینمه د سیوري تورې
او را یادېږي راته
تر یوه سیوري لاندې
چې د دېوال وو که د وني خو په یاد مې نه وي
ګوښه له خلکو په ساړه سیوري کې
چې یوه بل ته مو خبرې د پرون کولې
یا د روښانه سباوون کولې
د نوي کال او د بل کال خبرې نه ختمېدې
د یوه بل غېږې ته ولوېدلو
او د خیالونو پر وزر تر بل جهانه تللو
د غرونو څوکو د نړی بام ته ور وختلو
ته لکه زرکه لکه بته په ښکلا مغروره
لکه سپوږمی د ځوارلسمي په ځلا مغروره
زه ستا په مینه، زه په تا، او ته په ما مغروره
ته ملکه د تاج محل زه شهنشاه د جهان
زه بې پروا له حادثو د زمان
لکه چې زما په حکم ګرځي اسمان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

چې یو ناڅاپه راغلل باد او باران

د خیال په کورکي سو هی هی د توپان

له لوړي څوکي څخه پرېوتلو

ذره ذره پر مځکه ولوېدلو

پر ون مو هېر سو سباوون عزراییل وتښتاوه

نه ملکه نه تاج محل نه شاه جهان پاته سو.

د ۲۰۲۴ کال د جنوري د میاشتي یوولسمه، ویرجینیا.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ